PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۵۶

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال – دویمه دوره، ۱۰۵۶ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۳۱ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د غبرګولي ۱۵ مه – د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق رجب ۴ مه د ۲۰۱۱ د جون ۵ مه

د القاعدې یو مهم مشر الیاس کشمیری ووژل شو

راپور نه وایي چې پر سوېلي وزیرستان د وړمې شپې بې پیلوټه الوتکې په برید کې د القاعده ډلې یو مهم مشر او د پاکستان د حرکت الجهاد الاسلامي ډلې مشر الیاس کشمیری هم ووژل شوی دی. دغه بې پیلوټه هوایي برید وړمه شپه د سوېلي وزیرستان مرکز وانه ته نژدې د لمن په سیمه کې شوی، چې د ځایي چارواکو په وینا، په دې برید کې اته کسان ووژل شول. بي بي سي د ځایي اوسېدونکو له قوله لیکلي، چې په دې برید کې د نورو وسلوالو ترڅنګ الیاس کشمیری هم وژل شوی دی.

۳مخ

ایا په ربستیا امریکا په افغانستان کې سوله غواړي؟

امریکا او غربي همکاران یې اوس اوس په دې لټه کې دي، چې ظاهراً افغانستان ولس، او د نړۍ خلکو ته وښیي، چې دوی په افغانستان کې د سولې لپاره جګړې کوي او د سولې د راوستلو لپاره دغه هېواد ته تللي دي. دوی تر دې مهاله ډېرې داسې غوښتونکې خبرې او پالیسي ګانې را مخې ته کړې، چې ګواکې دوی غواړي په افغانستان کې د سولې خبرو اترو ته لاره هواره کړي او له مخالفو لوریو سره په یو ډول نه یو ډول د مذاکراتو سلسله جاري وساتي. په همدې سلسله کې د امریکا د دفاع وزیر د امریکا د دفاع وزیر پرون په سینګاپور کې یو امنیتي کنفرانس ته وویل چې که پر طالبانو پوځي فشارونه زیات شي، نو د روان کال تر ژمي پورې کېدای شي له هغو سره خبرې اترې وشي. د ده په خبره دغه کار به هله تر سره شي چې په افغانستان کې مېشت د ناټو ځواکونه پر طالبانو خپل فشارونه جاري وساتي او د جګړې په میدان کې پرمختګ وکړي.

ګیتس وویل چې طالبانو سره په جګړې کې پرمختګ، د خبرو اترو لپاره لاره هواروي. «که موږ وشو کولای چې په افغانستان کې د خپلو بریالیتوبونو ځخه ساتنه وکړو، د امنیت په برخه کې لا پرمختګ وکړو، کافي شواهد په لاس کې ولرو چې طالبان تر فشار لاندې دي، نو کېدای شي چې له طالبانو سره په راتلونکي ژمي کې خبرې اترې پیل شي او

۳مخ

ولسي جرګې ته بیا هم د کابینې پاتې نوماند وزیران ور ونه پېژندل شول

ولسي جرګې ته د باور رایې داخیستو لپاره د نوماندو وزیرانو معرفي یو ځل بیا د جمهوري ریاست له خوا وخندول شوه. د ولسي جرګې رییس عبدالرووف ابراهیمي په پرونې (دغبرګولي پر ۱۴مه) غونډه کې اعلان وکړ، چې ولسمشر حامد کرزي نومورې ته د ټېلېفوني اړیکې له لارې ویلي، چې د وزیرانو پر لېست کار کوي او د ولسي جرګې غړي اوس کولی شي د دوبي په رخصتۍ لاړ شي. د ابراهیمي په وینا، حامد کرزي زیاته کړې ده؛ کله چې لېست بشپړ شو، د اعتماد رایې د اخیستو لپاره به یې ولسي جرګې ته معرفي کړي. دا په داسې حال کې ده، چې د جمهوري ریاست ویاند سیامک هروي پرون سهار وویل، چې د نوماندو وزیرانو لېست بشپړ شوی او ټاکل شوې ده، چې شنبه (پرون) ولسي جرګې ته ولېږل شي. خو د حکومت د رسنیو د مرکز مرستیال صفت الله صحاف ساپي پڑواک خبري اژانس ته وویل، چې د نوماندو وزیرانو معرفي د دولت په کاري لومړیتوبونو کې ده، خو دغه لېست تراوسه نه دی بشپړ شوی. هغه زیاته کړه چې په دې لېست کې سرپرست وزیران او نورې ځبرې شاملې دي، چې بحث پرې روان دی، خو دهغوی نومونه یې په ډاګه نه کړل. صافي د نوماندو وزیرانو د معرفي دقیقه نېټه په ډاګه نه کړه او ویې ویل چې لېست بشپړ شوی نه دی او هڅه کوي، یادشوي کسان ژر تر ژره ولسي جرګې ته معرفي شي. دا په داسې حال کې ده، چې ولسمشر کرزي د غبرګولي پر ۱۰مه، ولسي جرګې ته د نوماندو وزیرانو په معرفي کې د ځنډ له امله ببنه وغوښته او ویې ویل چې دغه ځنډ د امنیتي پېښو له امله رامنځ ته شوی دی. هغه زیاته کړه، چې نوماند وزیران به د ډېر ژر ولسي جرګې ته معرفي شي. د یادونې ده، چې ولسمشر کرزي له بیا ولسمشر کېدو وروسته د ړې ځلې نوماند وزیران ولسي جرګې ته معرفي کړي

دي، خو د ۲۶ وزارتونو له جملې نه یوازې د ۱۹ وزارتونو نوماندانو د اعتماد رایې تر لاسه کړې او پاتې نور رد شول. هغه مهال د عامې روغتیا، ښځو چارو، لوړو زده کړو، ښاري پراختیا، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، ترانسپورټ او هوایي چلند او اوبو او برق وزارتونو نوماندانو د اعتماد رایې تر لاسه نه کړې. دغه اووه وزارتونه تراوسه د سرپرستانو له خوا اداره کېږي، چې د قانون له مخې، سرپرست وزیر نشي کولی له یوې میاشتې زیات کار وکړي.



په افغانستان کې د امریکا دایمي پوځي اډې، پوښتنې او ارزونې

۲

د بهرنیو ځواکونو د وژل شویو سرتېرو شمېره ۲۲۲ تنو ته ورسېده

ناټو د افغانستان په سویل کې د خپلو دوو سرتېرو د وژل کېدو خبر کېدو ورکړ. دغه خبر په کابل کې د ناټو په مشري د ایساف ځواکونو مطبوعاتي دفتر له خوا د غبرګولي پر ۱۴مه، په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ورکړ شوی دی. سرچینې زیاته کړې چې دغه سرتېري یې وړمه ورځ د افغانستان په سویل کې د وسلوالو مخالفینو په مخامخ بریدونو کې وژل شوي دي. ایساف د پېښې کړه ځای او د وژل شویو سرتېرو هویت نه دی په ډاګه کړی، خو باید ووایو چې په سویل کې د ایساف ډېرى امریکایي، کانادایي او بریتانوي سرتېري مېشت دي. د دغو سرتېرو په وژل کېدو سره په روان زېردي کال کې د افغانستان په بهلا بهلو سیمو کې د ایساف د وژل شویو سرتېرو شمېره ۲۲۲ تنو ته ورسېده.

په کندهار پوهنتون کې چاودنو یوه پولیس اودرېو محصلانو ته مرګ ژوبله واړوله

په کندهار کې پرله پسې دوو چاودونو یوه پولیس اودرېو محصلینو ته مرګ ژوبله واړوله. دغه چاودنې پرون دغبرګولي پر ۱۴مه، دغرمې په شاوخوا دوولس نیمو بجو د کندهار پوهنتون په ودانۍ کې وشوې. د کندهار د عامې روغتیا رییس عبدالقیوم پښتون وایي، چې له دې دوو چاودنو ځخه تر اوسمهاله دوی ته درې تپیان او یو وژل شوی راوړل شوي دي. هغه وایي، چې وژل شوی د کندهار د انجنیرۍ پوهنځي محصل او په تپیانو کې یوتن پولیس او دوه تنه نور یې د زراعت او د طب پوهنځي محصلان دي. نومورې وویل، چې د تپیانو حالت د اندېښنې وړ نه دی. همدا راز د پېښې یوتن عیني شاهد او د انجنیرۍ پوهنځي محصل مسلم پڑواک خبري اژانس ته وویل، چې وژل شوی محصل احمد نومېده او د انجینرۍ پوهنځي د درېیم صنف محصل و. د هغه په وینا، احمد د کندهار د امنیه قوماندان جنرال عبدالرزاق سکرټر او او چادونه د همده د وژنې لپاره ترسره شوې ده. خو بل لورته بیا د کندهار د امنیه قوماندانۍ د امنیت آمر سمونوال شېرشاه یوسفزي وویل، چې په دواړو چاودنو کې یو محصل وژل شوی او دوه نور تپیان دي. د کندهار پوهنتون د ښار په نهمه ناحیه کې د لوېې ویالې په سیمه کې موقعیت لري. تر اوسه د ددې چاودنو مسوولیت چا پرغاړه نه دی اخیستی.

رییس شورای صلح چهار ولسوالی پکتیا ربوده شد

محمدالله عابد رییس شورای صلح چهار ولسوالی پکتیا دیروز از طرف افراد مسلح ناشناس ربوده شد. سعادت خان ولسوال څمکنی ولایت پکتیا گفت که محمدالله عابد مسوول شورای صلح ولسوالی های جانخیل، جاجی اریوب، څمکنی و دندی پتان این ولایت بود. وی گفت،که عابد به شمول برادر و یک هم قریه اش، روز گذشته هنگامی که از منزلش به طرف ولسوالی درحرکت بود، از طرف افراد مسلح ناشناس ربوده شد. وی می گوید که برادر و هم قریهٔ عابد از طرف افراد مسلح ناشناس رها گردیده اند،اما وی تاکنون نزد آنها به سرمی برد. نامبرده می افزاید: "افراد مسلح گفته اند که عابد را حالا رها نمی کنند." عبدالرحمن څمکنی یکتن از باشنده گان څمکنی به پژواک گفت که عابد برای حل مشکل یک هم قریه اش به طرف ولسوالی در حرکت بود که از طرف مخالفان مسلح ربوده شد. وی می گوید، تاکنون معلوم نیست که عابد را چه کسی ربوده است.

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

بازی با مهره های سوخته!

بازار مذاکرات صلح و آشتی با طالبان و سایر مخالفان مسلح دولت بار دیگر گرمتر به نظر می رسد؛ چنانکه اکنون محور همه نبرد گرم و سرد را ساخته و هر کس از آن به نحوی به نفع شخصی، حزبی و گروپی خود استفاده می نماید.

در این اواخر، شماری از رسانه های غربی اعلام داشتند که مقام های امریکایی با نماینده گان بلندپایهٔ واقعی طالبان چندین مرتبه در قطر و آلمان دیدارهایی داشته اند. به دنبال نشر این خبر، عده یی از مقام های بلندپایهٔ امریکایی از جمله رابرت گیتس وزیر دفاع امریکا این خبر را به صورت تلویحی تایید و طی روزهای اخیر چندین باری است که اعلام می دارد، ممکن مذاکرات صلح با طالبان در اواخر سال جاری میلادی به نتیجه و دستاورد محسوس و قابل ذکری بیانجامد.

همزمان با پخش این گزارش ها، روز گذشته روزنامهٔ گاردین چاپ بریتانیا گزارشی را به نشر رساند که در آن گفته شده بود، امریکاییان و بریتانیایی ها از شورای امنیت سازمان ملل متحد خواسته اند، تا نام های ۱۸ تن از سران و مقام های پیشین طالبان را از لست سیاه حذف نمایند.

برپایهٔ این گزارش گفته می شود که در این لست، نام مولوی قلم الدین معین وزارت امربالمعروف و نهی عن المنکر دورهٔ طالبان و مولوی ارسلا رحمانی معین وزارت تحصیلات عالی این دوره نیز، به چشم می خورد.

مولوی قلم الدین با سقوط حکومت طالبان توسط نیروهای دولتی دستگیر و مدتی در بازداشت دولت به سر می برد، ولی پسان ها از بند رها و هم اکنون در ولایت لوگر به حیث یک تبعهٔ عادی افغان به زنده گی روزمره اش ادامه می دهد و مولوی ارسلا رحمانی فعلا در مجلس مشرانو جرگه به عنوان نمایندهٔ انتصابی، ایفای وظیفه می نماید.

این دو تن که در این گزارش از آنها نام برده شده است، از جملهٔ کسانی هستند که نه تنها در تحرکات سیاسی و نظامی فعلی طالبان نقشی ندارند، بلکه ظاهرا هیچ گونه وابستگی یی با آنها نداشته و در مسیر یک ایلیت سیاسی مقابل گام برمی دارند.

باید گفت، در گذشته ها نیز، نام چند تن از سران طالبان از لست سیاه شورای امنیت حذف گردیده بود که نام مولوی عبدالسلام ضعیف سفیر سابق حکومت طالبان در اسلام آباد و مولوی وکیل احمد متوکل وزیر خارجهٔ جز آنها بود. مولوی وکیل متوکل از جملهٔ کسانی است که تقریبا ده سال تمام در کابل تحت مراقبت دولت به سر می برد و مولوی ضعیف نیز، با رهایی از زندان گوانتنامو عملا در کابل اقامت داشته و هیچ یک آنها در ایلیت سیاسی و نظامی کنونی طالبان مهرهٔ کارآمدی به شمار نمی روند.

بنابراین، اگر روند آشتی و مذاکرات با همچو مهره ها و حلقات صورت گیرد و از آنها به عنوان نماینده گان طالبان و مخالفان یاد شود، این مسأله بازهم جنبهٔ تبلغاتی و سمبولیک خواهد داشت، تا صحنهٔ واقعی و عملی.

زیرا به جزء از یک مورد مذاکرات که گفته می شود در آلمان و قطر به صورت پنهانی صورت گرفته، در باقی موارد، از مهره هایی نام برده می شود که در حال حاضر، نه تنها کارآمدی در این راستا ندارند، بلکه به عنوان مهره های سوخته شناخته می شوند. این پروسه در صورتی می تواند، مراحل پویایی و شگوفایی را بپیماید که مهره های اصلی و کارآ و هسته های کارآمد بیرونی و درونی در کار باشد. در غیر این صورت، هر تلاشی بدون درنظرداشت جهت اصلی یک کوشش نمادین بوده و هیچ کاری را به جایی نخواهد برد.

په افغانستان کې د امریکا دایمي پوځي اډې، پوښتنې او ارزونې

اوومه برخه:

قاضي محمد حسن حقیار

بهرنیان او پر افغانستان یې اخلاقي او کولتوري اغیزې

په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو شتون د نورې نړۍ پر ځپر پر افغانانو فکري، کولتوري او اخلاقي اغیزې لري. کله چې امریکا د ویتنام په جګړه کې ماتې وخوړه، نود خپلو پوځونو د ذهني سترتیا درفع کولو لپاره یې په الوتکو کې فلیپین ته بیول، چې هلته د فحشا په اډو کې ساعت تېر کړي. دې کار هلته د فحشا غوړولو ته لاهم لار هواره کړه، د انترنیټي پانو د خبر له مخې امریکایي سرتېرو هلته هره شپه له لس زرو نجونو سره بدلمني کوله.

دفلیپین په اولانګاپو ښار کې د امریکایي اډو ترڅنګ پنځوس زره فاحشې خپل حرفوي مسلک پر مخ بیایي. د www.genuinesecurity.org/partners/report/Okinawa.pdf پانې د خبر له مخې د جاپان د اوکیناى په جزیره کې د امریکا نظامي اډه ده او هلته په پیل کې له دوی سره په هره دېرش نجونو کې یوه په فحشا مجبور ېدله. خو پر ۱۹۶۹ زېږدي کال له دویمې نړیوالې جګړې وروسته کله، چې دویتنام جګړه روانه وه د دې ښار د پولیسو په وینا، ۷۳۶۲ نجونې له امریکایي عساکرو سره په فحشا بوختې وې. ځینې داشمېره ۱۰۰۰۰ ښیي. پر ۱۹۷۲ کال د جاپان پارلمان د فحشا د منعې قانون تصویب کړ خو ګټه یې ځکه ونه کړه، چې دې نجونو، چې له دې لارې کومې پیسې ترلاسه کولې له بل هر مدرک څخه ډېرې وې.

د امریکا له اشغال وروسته د افغانستان په ځینو لویو ښارونو کې د فحشا ګراف د افغانستان په تاریخ کې تر ټولو لوړ وخوت، یوازې په پلازمېنه کابل کې د فحشا لسګونه اډې شته دي، په اکثروهوټلونو کې شراب، ګډه نڅا او جنسي بې لارۍ شته خو حکومت پرې ځان کون کړی دی.

کله چې عبدالجبار ثابت لوی ځار نوال و، نو څو ځله یې د کابل په نوي ښار، وزیر اکبر خان مېنې، فتح الله کلا او تایمنیو کې د فحشا لە اډو لسګونه چینایي حرفوي فاحشې وایستې، چې بیا بېه په دویمه ورځ بېرته افغانستان ته رانوتلې. (د پژواک خبري اژانس ارشیف)

د نورو چینایي توکو په څېر د دې چینایي فاحشو نرخ هم ډېر ارزانه آن تر پنځوس شپېتو ډالرو و.

داسې هم اوریدل کېږي، چې ځینې هغه کرایي جنګسالاران، چې د پیسو او اک لپاره یې افغانستان ته د امریکایي پوځیانو په راوستلو کې مرسته کړې اوس د پیسو لپاره هغوی ته حرفوي فاحشې افغانانې ورلېږي او خپل کمېشن اخلي. دوی په دې (سپلایي) ډېرې پیسې هم ترلاسه کړې.

دامن په نوم کورونه، چې یوازې په کابل ښار کې څومرکزونه لري د بامیانو په څېر د افغانستان په ډېرو ښارونو کې دموسسو له خوا جوړ شوي دي، په دې کورونو او مرکزونو کې هغو نجونو او مېرمنو ته ځای ورکول کېږي، چې د پلار، مور او ورونو او نورو دوستانو له قهر او غضب سره مخ وي د دوی په کورونو کې یې ځای نه وي، یا یې هغوی له شرمه ساتل نه غواړي، له کورونو تښتېدلي او په نورو ډول ډول اخلاقي کمزورۍ اخته وي، په دې کې شک نشته، چې دلته مېشتې ځینې مېرمنې او نجونې په رښتیا هم مظلومې او د ناروا غوښتنو ښکار شوي دي، خو په ټوله کې د دې مرکزونو د جوړولو موخه نجونو او مېرمنو ته د پیغام ورکول دي، چې نور نو ډېر د مذهب، کولتور، رسم او رواج او اخلاقي ارزښتونو په کیسه کې مه اوسېږئ او که له دې ارزښتونو بغاوت وکړئ، نو دامن او پوښتنې ځای مو شته دی.

طبعي ده، چې داکار په ټولنه کې د ګڼو ستونزو، لکه د کورني سپېځلي نظام او قرنطینو ډاډمنو جنسي اړیکو د له منځه تللو، د بې نظمۍ، د نامشروعو بچیانو او ایډز لامل ګرځي.

رښتیا هم بهرنیانو له کورنیو او بهرنیو لېوانو ژغورلي یو!

د اډو د جوړېدو ځینې ملاتړي اندېښمن دي، چې د بهرنیو ځواکونو په وتلو سره به کورنۍ جګړې او تاوتریخوالی اوج ته ورسېږي او که اډې دلته وي، نو مخه به پې ونیول شي. پوښتنه داده، چې ایا په دې لسو کالو کې دا مخالفتونه حل شوي او که زیات شوي دي؟ ایا دلته هره ورځ سیمه ییز، مذهبي او نژادي تبعیض ته لمنه نه وهل کېږي، ایا دلته اقلیتونه د لویو قامونو او اکثریت پر ضد نه لمسول کېږي او د هغوی پر ضد نه جنګول کېږي؟ دې مخالفتونو ته په خپله امریکا او ښکېلاکي هېوادونه لمنه وهي، دا لمسوني دهمدوی له خوا دي او د دوی لە وتلو سره دامخالفتونه خپله کمېږي.

د امریکا د نظامي اډو موضوع د نورې نړۍ په ځپر په افغانستان کې هم ولسونه او یو ملت ببلوي او یوله بل سره یې لاس او ګرېوان کوي. دلته ځینې هغه کسان، چې له امریکا او دلته د امریکا له شتون ځخه تغذیه کېږي او معنوي او فزیکي وجود یې په همدوی پورې اړوند دی، د امریکا د اډو پلویان دي، خو د ولس یې په غوځ اکثریت مخالف دی.، چې همداد هېواد دوېش او خپلمنځیو جګړو پر لور یو ګام دی.

امریکا پر افغان ولس د عربي نړۍ او د جنوبي امریکا په څېر دیکتاتوران او د امریکا ګوډاګیان واکمن کړي دي، چې همدا اوس یې تر ټولو ښه ببلګه جنګسالاره شمالي ټلواله ده. د شمالي ټلوالې په جرمونو او جنایتونو ټوله نړۍ خبره ده د افغانانو پر عزت تېری کوي، هم یې دولتي ځوکې په لاس کې دي او هم اپوزیسیون دی، په همدې امریکا او اروپا کې یې ډېرې خپلواکې ټولنې او د بشر حقوقو اداري د محاکمې غوښته کوي، خو امریکا یې له سیاسي او مالي پلوه نوره هم پیاوړې کوي.

په دې تېرو نولسو کالو کې، چې افغان ولس له ځومره ستونزو او ناخوالو سره مخ شوی، نو د امریکا دابدمرغه ډالې په کې شریکه ده.

امریکا غواړي، چې دلته سیمه ییز حکومتونه او جنګي ډلې پیاوړې او مرکزي دولت کمزوری کړي، دوی د دولت پروړاندې قوماندانان، زورواکان د ملېشو خاوندان او قومي مخور تقویه او اکمالوي، چې هروخت وغواړي دولت ته سردرد پیدا کړي.

دوی دلته ترخپل سیوري او واک لاندې بې مېوې حکومت غواړي د سیوري ونه مېوه نه نیسي: رحمان بابا پخوا وېلي: ((...او د سیوري نخل نه نیسي رطب))

په افغانستان کې د امریکا او ناټو له لس کلن شتون ځخه ښکاري، چې دوی دلته موږ له کورنیو او بهرنیو لېوانو ځخه ساتلي نه یو، بلکې لا یې موږ ورته له لاسونو او پښو ترلي یو او هغوی یې راپسې خوشې کړي دي.

دلته یې له لسو کالو راهیسې ترخپل سیوري لاندې بې مېوې حکومت پر افغان ولس تپلی دی او غواړي، چې داحکومت تلپاتې وي.

دا څرګنده ده، چې دا اډې به دامنیت پرځای په افغانستان کې تلپاتې ناامنۍ ته لار هواره کړي، ځکه چې داد ولس د ارادې ضد او د ولس له زغم ځخه وتلی کار دی. ولس د دې اډو پر خلاف راپارېږي اوس، چې د ولس لویه برخه چوپ ده لامل یې دادی، چې هغوی تراوسه دانه ده منلې، چې ګویا امریکا دلته د تل پاتې کېدو اراده لري، هغوی انګېري، چې امریکا لکه ځنګه، چې په خوله یې وایي د خپل ماموریت له پای ورسته، چې اوس ورته لږو خت پاتې دی، له دې ځایه وتونکې ده او که پوه شي، چې دې داړونکي دلته پاخه اړولي دي، نو بیا به ټول ولس تریوې قوماندې لاندې راټولېږي او پرضد به یې مبارزه پیلوي.

اوس چې په افغانستان کې جګړه روانه او هره ورځ مخالفین پیاوړي کېږي، دلیل یې په افغانستان کې د بهرنیو وسلوال شتون دی او که دا شتون دوامدار شي نو ښکاره ده، چې جګړه او ورانی به هم دوامداره وي. په ځواډو کې د امریکا یانو راغوندېدل به هغه دمزمل صاحب خبره د مجاهدینو کار لاهم اسانه کړي.

په لبنان کې د امریکا د نظامي اډو په شتون کې او لس کاله د قومي، ژبنیو او سمتي جګړو لمبې بلې وې او ترڅو، چې لبنانیانو خپله خپلې ستونزې حل نه کړې امریکایې په حل کې هېڅ ګام وانه خیست. **۳مخ**

په افغانستان کې د امریکا ...

په جنوبي کوریا کې د امریکا اډې دي، خو هروخت د شمالي کوریا له خوا پر توغندیو ویشتل کېږي. همدارازد پاکستان د جوړېدو له ورځې یا په بله ویناله ۴۸ کالو راهیسې په پاکستان کې د امریکا اډې دي ځو ځو ځله له هند سره ونښت خو یوځل هم امریکا ورسره دهند پر ضد مرسته ونه کړه او آن بنګله دېش هم تر ې پر ۱۹۷۱ ز ېږدي کال د دوی په شتون کې خپلواکي واخیسته.

ځیني وایي، چې د نظامي اډو مانا دانه ده، چې هغوی به بیا د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس وهي.

خو په ډېرو هوادونو کې د دوی د نظامي اډوشتون جوته کړې، چې دوی هلته د خپلو ګټو لپاره د هوادونو په کورنیو چارو کې لاس وهي. آن مشروع نظامونه رانسکوروي او د خپلې خوښې نامشروع نظامونه او خپل ملګري واک ته رسوي.

امریکا ظاهراً د دیموکراسۍ د پلوی دعوه کوي، خو خپله تل د دیکتاتورانه او کودتایي نظامونو ترشا ولاړه وي. پاکستان، فلیپین، د حسني مبارک د مهال مصر، سعودي، سوریه او اسراییل یې ښې ېلګې دي.

داوکینا واتاپو له دویمې نړیوالې جګړې یا له ۱۹۴۵ ز ېږدي کال وروسته تر ۱۹۷۲ پورې مستقیماً امریکا اداره کاوه. هلته قانون د امریکا نافذ و، خو هېڅ تابعیت یې نه د رلود، چې له ډېرو هلوځلو وروسته پر ۱۹۷۲ ز ېږدي کال د جاپان تر تسلط لاندې راغی.

که اوبه په کرایه ورکول کېږي خاوره هم کېدلی شي خو

زما په باور که په افغانستان کې پیاوړی، منتخب، خپلواکه او له هره پلوه پر ځان ویسا د واک او ځواک خاوند حکومت وای، چې له امریکا او نورو هوادونو سره یې خپل تړونونه عملي کولی، له هغوی پوښتنې او معلومات اخیستلی او هغوی یې د خپلو ژمنو تطبیق ته اړ ایستلی شوای او بیا یې دلوړې کرایې او امتیازاتو په بدل کې په داسې شرایطو، چې د افغانستان ځمکنۍ بشپړ تیا، ملي استقلال او خپلواکي په کې خوندي وي، د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنې نه وي، ګاونډیانو ته ګواښ نه وي، د افغانستان خاوره د ګاونډیانو پر ضد نه کارول کېږي او افغان حکومت داحق ولري، چې هره شېبه د دوی اډې ځارلی او لټولی وشي، د دوی دوسلو د ډول او شمېر څخه خبر واوسي، د دوی ژوند او فعالیت له بنارونو لرې، چېرته په غرونو او صحراوو کې د دوی تر اډو محصور او محدود وي د افغانستان په بنارونو او کلیو کې راشه درشه ونه کړي، موخې یې معلومې او په خپلو ژمنو ولاړ وي. د اړتیا په وخت کې د افغانستان بهر نۍ دښمن خپل دښمن او د افغانستان دوست خپل دوست وبولي، د افغانستان په بیارغونه او د افغانانو د ژوند او اقتصاد په پرمختګ کې محسوسه مرسته وکړي، نو بیا د اډې د افغانستان په ګټه دي. هر ملي او خپلواک هواد حق لري، چې د خپلو ملي ګټو پر بنسټ خپل کانونه پر نورو وپلوري، هر هواد کولی شي، چې دیوه تړون پر اساس په لنډ مهاله توګه خپلې اوبه، چې د دوی له اړتیا ډېرې وي پر نورو وپلوري او یا یې په کرایه ورکړي لکه څنګه، چې د افغانستان فقید صدراعظم اروانښاد موسی شفیق دیوه تړون په بدل کې د افغانستان اوبه ایران ته په کرایه ورکړې وي هموارازد خپلو ملي ګټو لپاره داهم کولی شي، چې خپله خاوره په لنډ مهاله توګه چاته داستفادې لپاره په کرایه ورکړي. خو که دا اډې د دې لپاره وي، چې له دې ځایه د نورو پر ضد دسیسې او توطیې جوړې شي، د ګاونډیو په کورنیو چارو کې لاسوهنه پیل شي، په نورو د برید اوتېرې لپاره کارول کېږي، نو بیا به افغانستان یوځل بیا د نورو تر وسلوال برید لاندې راځي او هماغه تاریخ او کانې به تکرار ېږي، چې د سپتمبر دیوولسمې له پېښو ورسته پر افغانستان وشوې.

دا ځکه، چې امریکا هم په همدې پلمه پر افغانستان برید وکړ او دلته یې وسلوال او نظامي حشر جوړ کړ، چې ګویا افغانستان د متحدو ایالاتو دښمنانو ته پناه او په خپله خاوره کې ځای ورکړی وو، نو که بیا امریکا له دې ځایه د هر هواد ګټې وګواښي، نو بیا خو هغوی هم حق لري، چې پر افغانستان برید وکړي ځکه افغانستان به یوځل بیا د نورو هوادونو د دښمنانو (امریکا) ته په خپله خاوره کې پناه ورکړي وي، هېڅ له امکان ځخه لرې نه ده، چې امریکان دلته له نورو هوادونو سره پر جګړو بوخت شي او د نورو هوادونو د بندیانو د ساتلو لپاره په افغانستان کې خپلې اډې د ګونتانامو په ځېر په زندانونو بدلې کړي. پخواخو یوازې امریکایانو له سمندر ځخه کنه دهار، د پکتیا ژوره او تورہ بوړه ویشتله داځل به چین، ایران، پاکستان روسان او د افغانستان نور ټول ګاونډیان له ټول افغانستان ځخه غلبیل جوړ کړي. روسان منځنۍ اسیا خو پر ېږده آن د افغانستان شمالي سیمې هم د خپل نفوذ ساحه بولي هغوی به هېڅکله په افغانستان کې د نظامي اډو پرانستې چوپ پاتې نه شي.

د جهادي مشرانو سکوت

له بده مرغه هغه جهادي مشران، چې له روسانو د افغانستان ژغورل خپل ویاړ بولي او له روسانو سره په جهاد کې د دوی تر قومانده ي لاندې شاوخوا یو نیم میلیونه مسلمانان شهیدان او له لسو میلیونو څخه افغانان، مهاجر، بې کوره او له دوو میلیونو څخه ورونه او خویندو مو ټپیان او د رپه دره شول نن په امریکایي اشغال یا چوپ او یا ورسره ملګري دي. افغان ولس له دوی پوښتي، چې که پر افغانستان د بهر نیانو واک او اشغال یې خوښېده، نو له روسانو سره په جهاد کې یې دا دومره قربانۍ ولې ورکولې او ولې یې دومره شهیدان، معیوبین، کونډې، وراړۍ او یتیمان تولني ته وراندې کول، ولې یې هغه وخت دهېواد د کنډو کپر کېدو مخه نه نیوله، چې اوس پر افغانستان د بهر نیو د اشغال پر وراندې یا چوپ دي او یا ورسره ملګري دي؟

دوی ولې او د کوم هدف لپاره پر هرستیژ او منبر د آیت تلاوت کاوه، چې: ((رَبِّ بِمَا أَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِّلْمُجْرِمِينَ (القصص ۱۷) یا نې: ((ای زما ربه د هغه د نعمت (او احسان) له کبله، چې پر ما دې کړی، نو هېڅکله به د ظالمانو ملاونه ترم)) نن ولې د نړیوالو مجرمینو ملاتړي او پرخپل سکوت د هغوی شتون ته مشروعیت ورکوي؟

د امریکا له خوا د افغانستان پر دایمي اشغال د جهادي زعامت چوپتیا د دوی د رضا او خوښې په مانا ده. ولس د دوی پر پخوانۍ مبارزه او له روسانو سره د جهاد پر نیت هم شکمن شوی دی او د اسې ښکاري، چې له روسانو سره د هغوی د جګړې موخه هم شهرت، شتمني، د بیت المال چور، واک او اقتدار او له ځوځو ښکلو نجونو سره ودونه وو او د دې موخو ته ورسېدل. ولس به د اډول مشران، چې د خپلو شخصي موخو لپاره یې ولس قربانی کړ، هېڅکله و نه بښي او د امریکا یانو د دې اډو د جوړېدو په جنایت کې یې شریک بولي. له بده مرغه مورِ ټولنلی او ربنتونی ولسي او سیاسي قیادت نه لرو، موجود جهادي او سیاسي مشران په خپلو ګټو فکر کوي، خپلې ګټې تر مهمو ملي ګټو وراندې بولي. په هواد کې د پردیو د نظامي اډو په اړه خو د دې مجاهدو مشرانو له دریځ ځخه د هغه کمونیست حفیظ الله امین دریځ ښه و، ډاکتر نبي مصداق لیکي: چې روسانو پر ۱۳۷۹ هـ لمریز کال له هغه ځخه د ایران پر ضد د شین ډنډ هوایي ډګر وغوښت خو ورپې نه کړ او دایې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړ تیا ضد کار و باله، چې له همدې له امله هغوی وواژه او روسانو مستقیمه مداخله وکړه. امریکایانو زمور ځینې جهادي زعامتونه تطمیع کړي، سیاسي او مادي رشوت یې ورکړی او د تبر خوله یې پر لمځي نیولې ده.

نومور ته ربنتونی ملي، مجاهد او سوچه افغاني قیادت په کار دی په نورو پورې تړلي او د نورو پر اخور شخوندو هونکی قیادت نه.

داسې قیادت مو په کار دی، چې په ډاګه او په پوره جرئت اعلان وکړي، چې: ((رَبِّ بِمَا أَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِّلْمُجْرِمِينَ (القصص ۱۷) یا نې: ((ای زما ربه د هغه د نعمت (او احسان) له کبله، چې پر ما دې کړی، نو هېڅکله به د ظالمانو ملاونه ترم)) او په ربنتیا هم د کفارو او مجرمانو ملاونه تړي، بلکې برعکس پر ضد یې غږ پورته کړي، ولس ته ربنتیا ووایي او په دې حساسو او برخلیک ټاکونکو شېبو کې د اسلام له غوښتنو سره سمه قوماندې ورکړي.

زمور جهادي قیادت باید وپوهېږي، چې امریکا له دې لارې غواړي، چې په سیمه کې موجود اسلامي خوځښتونه وځپي په افغانستان کې د روسانو اوله هغوی وروسته د امریکا د ښکېلاک پر ضد مبارزې په نړۍ کې اسلام د یوځغورونکي دین په توګه وځلاوه او د اسلامي نړۍ په اسکېر لو ځوانانو کې یې د خوځښت او پاځون روحیه لا ژوندۍ کړې ده. د اځپه له افغانستان ځخه منځنۍ اسیا او اروپا ته صادره شوې ده، هلته اسلام د هرې ورځې په تېرېدو سره پرمختګ کوي او د ښکېلاک پر ضد د مبارزې لپاره نوي سنګرونه پرانیستل کېږي، چې دا د امریکا لپاره د زغم وړ نه ده. هغوی د دې خوځښتونو مخنیوی غواړي، د اهغه جهادي خوځښتونه دي، چې زمور جهادي مشرانو به خپل ګڼل او په هغو هوادونو کې مبارزه کوي، چې همدې مشرانو به خپله او د اسلامي خلافت له تن ځخه بېله شوې خاوره ګڼله او د ودعوه به یې کوله، چې اسلام سرحد او پوله نه منې او د دې هوادونو له ازادۍ، وروسته یې ورسره د اسلامي کنفدراسیون جوړول غوښتل. **پای**

د القاعدې یو مهم مشر الیاس ...

الیاس د پاکستان د حرکت الجهاد الاسلامي ګوند مشر او د القاعده له مهمو غړو ځخه شمېرل کېده، ویل کېږي چې نوموړی تېره میاشت د پاکستان په کراچۍ بنار کې د مهران پر نظامي اډې د ترسره شوي برید طراح هم ګڼل کېده. د امریکا د بهر نیو چارو وزارت لا د مخه الیاس کشمیری په هندوستان او پاکستان کې د ترهګریزو فعالیتونو مسوول ګڼلی و. امریکا ادعا کوي، چې ځو کاله مخکې په کراچۍ بنار کې د امریکا پر قونسلګري شوي برید کې هم الیاس کشمیري لاس درلود، په دې برید کې ځلور کسان وژل شوي و. دیادونې ده، چې په پاکستان کې د اسامه له وژل کېدو وروسته امریکا پاکستان ته د پنځو کسانو د نیولو یا وژلو یو لست ورکړی و، چې په هغه کې د الیاس کشمیري نوم هم شامل و. په وانه کې د یوسف هارون په نامه یوتن پژواک اژانس ته وویل چې دی هم خبر شوی، چې الیاس کشمیری ورمه شپه په یاده شوې سیمه کې لیدل شوی و. خو هغه زیاتوي چې د هغه د وژنې په اړه بشپړ معلومات نه لري. د سمیع الله وزیر په نامه یوتن ځایي قومي مشر وایي چې الیاس کشمیری لس ورځې مخکې وانه ته راغلی و. د پاکستان لومړي وزیر یوسف رضا ګیلاني په اسلام اباد کې خبر یالانو ته وویل، چې دوی د الیاس کشمیري د وژل کېدو په اړه معلومات نه لري. د اسامه له وژل کېدو وروسته د اسې اوازې هم وې، چې ګوندې الیاس کشمیری د القاعده ګوند مشر په توګه ټاکل کېږي. بلخوا په سوېلي وزیرستان کې ځایي چارواکي وایي چې د ورمې شپه په هوایي برید کې د وژل شوي کسانو شمېره ۱۴ تنو ته ورسېده، له دې مخکې په دې برید کې د اتو کسانو د وژل کېدو خبر ورکړل شوی و.

ایا په ربنتیا امریکا په افغانستان...

د ښو پایلو امید تر ې وشي.»

ګیتس وروسته له هغې په ښکاره توګه د طالبانو سره د خبرو اترو د امکان د شتون خبر ورکوي چې د ځینو رپورټونو په حواله، امریکا متحدو ایالاتو طالبانو سره پټې خبرې اترې پیل کړې.

ګیتس وویل چې اوس کیدای شي طالبان د افغانستان د سیاسي بهیر یوه برخه وي، خو دوی کولای شي چې د افغانستان په سیاسي چارو کې یوازې د ځینو شرطونو په منلو سره ښکېل شي.

افغانستان کې تاو تریخوالی اوس د وروستیو لسو کلونو په پرتله د ېر لوړ دی. که ځه هم طالبان د افغان او نړیوالو ځواکونو له خوا په جنوبي ولایتونو کې تر سخت فشار لاندې نیول شوي، خو دوی اوس هم د افغانستان په ډېرو سیمو کې خپلو بریدونو ته ادامه ورکوي. دوی خو اوس د افغانستان په امنو شمالي او غربي ولایتونو کې هم بریدونه تر سره کوي.

د ګیتس د دې خبرو په مورد کې ویلی شو، چې دا هم هسې خوشې د تېرو خبرو په ځېر فقط یو کامپنټ دی، چې د خلکو او نړۍ د توجه د راجلو بولو لپاره یې وړاندې کړی دی. ځکه په افغانستان کې د جګړې او په افغانستان کې د امریکا د پوځي حضور د وخت په هکله موده مخکې ویکیلیکس وېبپاڼې پرده پورته کړې وه. دې وېبپاڼې د امریکا او نورو نړۍ له ډېرو پټو رازونو نړۍ خبره کړه او اوس هم کله نا کله د افغانستان، سیمې او نړۍ په اړه پټ او حیرانوونکي معلومات خپروي. دا چې دغه وېبپاڼه د کومې موخې لپاره کار کوي، د چا په سیاسي ملاتړ او اشاره چلېږي او د کوم پلان او چا له خوا ورته لار ښوونه کېږي او ایا پخپله غربي چارواکي له ویکیلیکس سره لاس لري او که نه؟ دا زمور د بحث وړ موضوع نه ده، بلکې مور ته هغه ځه مهم دي، چې زمور له هواد او سیاست سره ارخ لګوي. په همدې تړاو یادې وېبپاڼې یوه موده مخکې له یوې مهمې او پټې مسئلې نه پرده پورته کړه او دا یې په ډاګه کړه، چې امریکایان نه غواړي، چې له افغانستانه ووځي او هیله لري، چې تر ډېره وخته پورې په دې هواد کې پاتې شي. ویکیلیکس لیکلي وو: د ۲۰۱۱ کال په نیمایي کې له جګړه ځپلې افغانستان نه د امریکایي پوځ د ایستلو لپاره د ولسمشر بارک اوباما له خوا ګندونو ورسته واشنګټن خپلو ملګرو ته د تړلو دروازو تر شا ویلي چې له افغانستانه د پوځ د ایستلو د پېل دغه نېټه ربنتیا نه ده او نه هم حقیقت لري. وېبپاڼه کاږي، ولسمشر اوباما له افغانستان نه د پوځ د ایستلو لپاره دغه ځرګندونې په امریکا کې افغان حکومت ته په واک او د امنیت د لېږدول د بحث او افغانانو ته د خپلو مسوولیتونو د سپارلو د احساس پیدا کېدلو لپاره کړې دي. د ۲۰۱۰ کال د فبروري پر دوولسمه په پاریس کې د امریکا سفیر الیکزاندر ورشبو په خپل لیک کې د فرانسې او امریکا د دفاع وزیرانو د لیدنې تفصیل کاږلی دی. د تېر کال د فروري پر اتمه په پاریس کې د لیدنې پر مهال د فرانسې دفاع وزیر هیرف مورین د ولسمشر اوباما پر دغه اعلان اند ېښنه ښودلې، چې د ۲۰۱۱ کال په جولای کې له افغانستان نه د ځواکونو وتل پیل کوي، خو په ځواب کې یې د امریکا دفاع وزیر رابرټ ګېټس ویلي چې له افغانستان نه د ځواکونو وتل پر ځمکنیو واقعیتونو پورې تړلي دي. د ګېټس په خبره امریکا له افغانستان نه د ځواکونو د وتلو د نېټې د پېل اعلان د دې لپاره وکړ، چې افغانان د امنیت تر لاسه کولو مسوولیت ته ځیر کړي. له بلې خوا د امریکایي چارواکو ضد او نقیض خبرې ځر ګندونې هم د دې ښکارندویي کوي، چې امریکایي چارواکي او بیا د هغوی همکاران سره ټول په یوه خوله نه دي؛ چې په افغانستان کې خپل ماموریت د تقسیم اوقات له مخې پای ته ورسوي، په عمومي توګه امریکا نه غواړي چې له افغانستانه ژر ووځي، دوی کله یوه پلمه او کله بله پلمه کوي، کله یو ځه او کله بل ځه وایي، هسې افغان ولس، نړیوالې ټولنې او نورو ته بازي او دوکه ورکوي او خپله خپل شیطاني سیاست چلوي او په یوه او بل نامه د خپلو موخو د تر لاسه کولو په لټه کې دي. همدې ټکي ته په کتو سره په افغانستان کې د امریکا د پوځي دایمي اډو خبره هم دا حقیقت په ډاګه کوي، چې امریکا په دې هواد کې د پوځي حضور د وخت په هکله موده مخکې ویکیلیکس وېبپاڼې پرده پورته کړې وه. دې وېبپاڼې د امریکا او نورو نړۍ له ډېرو پټو رازونو نړۍ خبره کړه او اوس هم کله نا کله د افغانستان، سیمې او نړۍ په اړه پټ او حیرانوونکي معلومات خپروي. دا چې دغه وېبپاڼه د کومې موخې لپاره کار کوي، د چا په سیاسي ملاتړ او اشاره چلېږي او د کوم پلان او چا له خوا ورته لار ښوونه کېږي او ایا پخپله غربي چارواکي له ویکیلیکس سره لاس لري او که نه؟ دا زمور د بحث وړ موضوع نه ده، بلکې مور ته هغه ځه مهم دي، چې زمور له هواد او سیاست سره ارخ لګوي. په همدې تړاو یادې وېبپاڼې یوه موده مخکې له یوې مهمې او پټې مسئلې نه پرده پورته کړه او دا یې په ډاګه کړه، چې امریکایان نه غواړي، چې له افغانستانه ووځي او هیله لري، چې تر ډېره وخته پورې په دې هواد کې پاتې شي. ویکیلیکس لیکلي وو: د ۲۰۱۱ کال په نیمایي کې له جګړه ځپلې افغانستان نه د امریکایي پوځ د ایستلو لپاره د ولسمشر بارک اوباما له ځرګندونو ورسته واشنګټن خپلو ملګرو ته د تړلو دروازو تر شا ویلي چې له افغانستانه د پوځ د ایستلو د پېل دغه نېټه ربنتیا نه ده او نه هم حقیقت لري. وېبپاڼه کاږي، ولسمشر اوباما له افغانستان نه د پوځ د ایستلو لپاره دغه ځرګندونې په امریکا کې افغان حکومت ته په واک او د امنیت د لېږدول د بحث او افغانانو ته د خپلو مسوولیتونو د سپارلو د احساس پیدا کېدلو لپاره کړې دي. د ۲۰۱۰ کال د فبروري پر دوولسمه په پاریس کې د امریکا سفیر الیکزاندر ورشبو په خپل لیک کې د فرانسې او امریکا د دفاع وزیرانو د لیدنې تفصیل کاږلی دی. د تېر کال د فروري پر اتمه په پاریس کې د لیدنې پر مهال د فرانسې دفاع وزیر هیرف مورین د ولسمشر اوباما پر دغه اعلان اند ېښنه ښودلې، چې د ۲۰۱۱ کال په جولای کې له افغانستان نه د ځواکونو وتل پیل کوي، خو په ځواب کې یې د امریکا دفاع وزیر رابرټ ګېټس ویلي چې له افغانستان نه د ځواکونو وتل پر ځمکنیو واقعیتونو پورې تړلي دي. د ګېټس په خبره امریکا له افغانستان نه د ځواکونو د وتلو د نېټې د پېل اعلان د دې لپاره وکړ، چې افغانان د امنیت تر لاسه کولو مسوولیت ته ځیر کړي. له بلې خوا د امریکایي چارواکو ضد او نقیض خبرې ځر ګندونې هم د دې ښکارندویي کوي، چې امریکایي چارواکي او بیا د هغوی همکاران سره ټول په یوه خوله نه دي؛ چې په افغانستان کې خپل ماموریت د تقسیم اوقات له مخې پای ته ورسوي، په عمومي توګه امریکا نه غواړي چې له افغانستانه ژر ووځي، دوی کله یوه پلمه او کله بله پلمه کوي، کله یو ځه او کله بل ځه وایي، هسې افغان ولس، نړیوالې ټولنې او نورو ته بازي او دوکه ورکوي او خپله خپل شیطاني سیاست چلوي او په یوه او بل نامه د خپلو موخو د تر لاسه کولو په لټه کې دي. همدې ټکي ته په کتو سره په افغانستان کې د امریکا د پوځي دایمي اډو خبره هم دا حقیقت په ډاګه کوي، چې امریکا په دې هواد کې د پوځي حضور د وخت په هکله موده مخکې ویکیلیکس وېبپاڼې پرده پورته کړې وه. دې وېبپاڼې د امریکا او نورو نړۍ له ډېرو پټو رازونو نړۍ خبره کړه او اوس هم کله نا کله د افغانستان، سیمې او نړۍ په اړه پټ او حیرانوونکي معلومات خپروي. دا چې دغه وېبپاڼه د کومې موخې لپاره کار کوي، د چا په سیاسي ملاتړ او اشاره چلېږي او د کوم پلان او چا له خوا ورته لار ښوونه کېږي او ایا پخپله غربي چارواکي له ویکیلیکس سره لاس لري او که نه؟ دا زمور د بحث وړ موضوع نه ده، بلکې مور ته هغه ځه مهم دي، چې زمور له هواد او سیاست سره ارخ لګوي. په همدې تړاو یادې وېبپاڼې یوه موده مخکې له یوې مهمې او پټې مسئلې نه پرده پورته کړه او دا یې په ډاګه کړه، چې امریکایان نه غواړي، چې له افغانستانه ووځي او هیله لري، چې تر ډېره وخته پورې په دې هواد کې پاتې شي. ویکیلیکس لیکلي وو: د ۲۰۱۱ کال په نیمایي کې له جګړه ځپلې افغانستان نه د امریکایي پوځ د ایستلو لپاره د ولسمشر بارک اوباما له ځرګندونو ورسته واشنګټن خپلو ملګرو ته د تړلو دروازو تر شا ویلي چې له افغانستانه د پوځ د ایستلو د پېل دغه نېټه ربنتیا نه ده او نه هم حقیقت لري. وېبپاڼه کاږي، ولسمشر اوباما له افغانستان نه د پوځ د ایستلو لپاره دغه ځرګندونې په امریکا کې افغان حکومت ته په واک او د امنیت د لېږدول د بحث او افغانانو ته د خپلو مسوولیتونو د سپارلو د احساس پیدا کېدلو لپاره کړې دي. د ۲۰۱۰ کال د فبروري پر دوولسمه په پاریس کې د امریکا سفیر الیکزاندر ورشبو په خپل لیک کې د فرانسې او امریکا د دفاع وزیرانو د لیدنې تفصیل کاږلی دی. د تېر کال د فروري پر اتمه په پاریس کې د لیدنې پر مهال د فرانسې دفاع وزیر هیرف مورین د ولسمشر اوباما پر دغه اعلان اند ېښنه ښودلې، چې د ۲۰۱۱ کال په جولای کې له افغانستان نه د ځواکونو وتل پیل کوي، خو په ځواب کې یې د امریکا دفاع وزیر رابرټ ګېټس ویلي چې له افغانستان

بیداد درهم برهمی در زبان ها و گفتار ما

سعید سعادت

در سی سال گذشته که هر فرد افغان کم از کم یکبار مزهٔ آواره گی و بیجایی را چشیده، نه تنها زنده گی های شان دستخوش بحران و تغییرات خاصی شده، بلکه بر زبان های ما نیز، اثر ناگواری مانده و درهم برهمی تسلط یافته است. به این خاطر، در بسیاری از اعلانات، اخبار، لوحه ها و گفتارهای روزمره می توان غلطی های بسیاری دید و شنید. برخی ها که سال ها در ایران و پاکستان زنده گی کرده، موتر را «ماشین» و «گادی» می گویند و این اصطلاحات را چنان عادی تلفظ می کنند که گویی زبان اصلی خود شان بوده باشد. اینان پیوسته «نه بابا» و « نه مړه» را تکرار می کنند. تحصیل کرده گان در ایران کاملاً با لهجهٔ ایرانی و در پاکستان با لهجهٔ پاکستانی که در هر جمله چند بار اصطلاحات انگلیسی را به کار می برند، صحبت می نمایند. آنانی که در غرب بوده و یا در سال های اخیر با خارجی ها در تماس قرار داشته، اصطلاحات خاص غربی را به کار می برند و نه تنها از فراموش کردن مقولات خاص زبان خود رنج نمی برند و شرم نمی کنند که به افتخار مقولات غربی را استعمال کرده و حتا افتخار می کنند که زبان خود را فراموش کرده، چون بیگانه پرستی زبانی در این روزها، نان و نوای بیشتری دارد. در برخی از اعلانات نه تنها دستور زبان نادیده گرفته می شود که به صورت مسخره، دستور زبان دیگران جانشین دستور زبان ما می گردد. در بسیاری از نوشته ها عدد و معدود به صورت جمع استعمال می گردند، چون دستور زبان انگلیسی و شاید زبان های دیگر غربی هم همین طور باشد. مثلاً بسیاری برای لوکس گویی «چند مراتبه» استعمال می کنند و در یکی از اعلانات که بسیار نفرت انگیز است و در بسیاری از تلویزیون ها گذاشته می شود، گفته می شود که «در بزنس سنتر چهاردهی دوهزار دکاکین آمادهٔ فروش اند» بگذریم از اینکه استعمال جمع مکسر دکان صحیح نیست. برای اینکه این بیسوادی و غلطی خود را لوکس جلوه دهند، عوض دوهزار دکان، دو هزار دکاکین می گویند. دراعلان دیگر «سایر دکان های دیگر» ذکر می شود. چون معنی «سایر» را نفهمیده و به خاطری که اعلان نویس بیسواد «لغت» استعمال کرده باشد، این چنین غلط نوشته و چون برخی از تلویزیون ها خود مشکل دارند، متوجهٔ این اعلان های غلط نمی شوند و یا اگر می شوند، برای آنان این مهم است که پول خود را بگیرند و با اینکه در اعلان ها چتلی های ضد زبان باد می شود، برای شان ارزشی ندارد. بسیاری از گوینده گان این تلویزیون ها برای اینکه به اصطلاح خوب صحبت کرده باشند، عوض «ما»، «مان» می گویند. در حالی که در زبان دری از نظر دستوری چیزی به نام «مان» در متن های قدیم و جدید وجود ندارد. این را در اخبار رادیوها و تلویزیون ها بسیار شنیده ایم. در حالی که «ما» جمع «من» است و «مان» نه تنها معنا ندارد که بسیار غلط و بد آیند هم می باشد. بگذریم از اینکه به غلط در رسانه ها فرق بین «بازداشت» و «دستگیر» نشده، برای اینکه غلط ادا کرده باشند، در هر جایی عوض دستگیر هم بازداشت، به کار می برند. در حالی که «دستگیر» برای حالتی به کار برده می شود که متهم در حال جنگ، فرار و سرکشی باشد که دستگیر می شود، اما بازداشت حالت غیر از این را تصویر می کند، حالتی که متهم هیچ مقاومتی در برابر پولیس و قانون ندارد، مثلاً به خاطر بیان رکیک، عدم پرداخت تکس و ... گرفتار می شود. شدت و بار این دو گرفتاری از نظر محتوا متفاوت است. بگذریم از اینکه در اخبار یکی از تلویزیون ها بسیار عادی «فَروَند» را «فُروند» می گفت و بیان «هفغانستان»، «هزیز»، «هارایش»، «هزم» و هما آن قدر زیاد شده که آرام آرام می رود، تا افغانستان، عزیز، آرایش و عزم و اما غلط قرار بگیرند!!!

بر یکی از لوح های کلانی در چهارراهی دهمزنگ که با خط و رنگ پر مصرفی تزیین شده بود، ضمن اینکه از شهرکی تعریف و تمجید شده و از فروش خانه های آن خبر داده بود، در آخر آمده بود که «فاصله از مرکز شهر تا شهرک سه و نیم کیلومتر مربع» نه اعلان نویس فهمیده بود که واحد طول کیلومتر مربع نیست، کیلومتر است و کیلومتر مربع واحد سطح است، نه لوحه نویس. این لوح چند ماه بر این چهارراهی نصب بود و همه عادی می خواندند و می گذشتند. استعمال غلط طبقهٔ «ذکور» و «اناث» آن قدر زیاد و رسمی شده که اگر کسی زنان و مردان بگویند، بی سواد تلقی می شوند. اول اینکه استعمال چنین عربی غلیظ بسیار مسخره و بدآیند است و دوم اینکه معیار طبقه «جنس» نیست. طبقه تعریف سیاسی – اقتصادی دارد که قطعاً نمی شود، تمام مردان را در یک طبقه و زنان را در طبقهٔ دیگر قرار داد، چون از هر نظر زن راکفیلر با زن دهقانی فرق دارد، ده نفری که ۹۰۰ میلیون دالر را از کابل بانک زده و برای خود در دوبی سرمایه گذاری کرده بودند، با کارگری که سرچوک برای کار روزانه ۲۵۰ افغانی با حسرت هر عابری را تماشا می کند، نیز فرق داشته و اینان را داخل یک طبقه قرار داده، با اینکه هر دو مرد می باشند، عمق نادانی را به نمایش می گذارد که اگر دیوانگی و بیسوادی نباشد، به شدت خنده آور و مسخره است.

طبقه به گروهی از انسان های اطلاق می گردد که با وسایل تولید یکسان، سهم یکسان از تولید و نقش همسان در سازمان اجتماعی کار داشته باشند، گفته می شود. آیا تمام مردان و تمام زنان در این موارد یکسان اند و باید شامل یک طبقه شوند. آنانی که «طبقهٔ ذکور» و «طبقهٔ اناث» می گویند، نه بویی از تعریف و تحلیل طبقه می برند، نه تا حال فهمیده اند که این مقولات غلط چرا وارد زبان ما شده و نمی فهمند که چه مقصدی در پشت بیان این مقولات نهفته است.

شما هر روز اصطلاحاتی چون مشکلات ها، وسایل ها، ممالک ها، تجاران ... را می شنوید و استعمال این غلط ها آنقدر عادی و معمولی شده، مثل اینکه یکی از استادان ژورنالیزم در جایی با عصبانیت می گفت که «بیست مراتبه» گفتم که این کار «مشکل ها » را مطرح نکنید و یکی از شاگردان ظریفش به رسم شوخی می گفت که وقتی استاد ما عصبانی شد و یا تصمیم گرفت که ادبی صحبت کند، غلط می گوید و چُرتش هم خراب نیست. در هیچ جایی نیست که سالون را به غلط «صالون» ننویسند. این غلط معمول آن قدر زیاد شده که اگر کسی سالون را به «س» ببیند شاید برایش غلط جلوه کند. در حالی که سالون ریشهٔ فرانسوی دارد و باید به «س» فارسی نوشته شود، نه به «ص» عربی، بگذریم از اینکه سیاووش را سیاوَش می گویند و نسوار را نصوار و نسواری را نصواری می نویسند.برای از میان برداشتن این همه مشکل در زبان های ما باید مسوولان نشرات رسانه ها ادیتورها، اعلان نویسان و اعلان سازان توجه کنند که چنین غلطی های شاخدار که ما در اینجا مشت نمونهٔ خروار آوردیم را اصلاح کنند و زبان معیاری خود ما را به کار گیرند. مخصوصاً یکبار قبل از ارایهٔ اخبار رسانه ها باید اخبار چک شوند و چک کننده گان خود ابتدا مشکل های خود را حل بسازند.

قتل اولین تبعهٔ خارجی در ولایت پنجشیر

یک تبعهٔ ملکی امریکایی، در نتیجهٔ لت و کوب مردم در ولسوالی خنج پنجشیر، کشته شد. عطامحمد امیری رییس شورای ولایتی پنجشیر، دیروز گفت که این مرد، شام پریروز در منطقهٔ دره مُکنی ولسوالی خنج، به قتل رسید. به گفتهٔ وی، این امریکایی زمانی کشته شد که با یک زن امریکایی، برای سیاحت به ولسوالی خنج می رفت، اما در مسیرراه، این زن با مرکب یکتن از باشنده گان محل برخورد کرده و حین افتادن به دره، صاحب مرکب دست زن را گرفته و قصد نجات وی را داشت، اما مرد امریکایی بالای صاحب مرکب فیر نموده و او را زخمی کرد. امیری افزود که بعد از این حادثه، مردم محل خشمگین شده و بالای مرد امریکایی حمله نمودند که بر اثر لت و کوب آنها، این مرد به قتل رسید. براساس معلومات منبع، وضعیت صحی صاحب مرکب نورمال بوده و مرمی به دست وی اصابت کرده است. محمد موسی یکتن از شاهدان عینی، به پژواک گفت: "مردم محل زخمی شدن همشهری خوده، دیده نتانسته و بالای امریکایی حمله کدن". به گفتهٔ وی، مردم با استفاده از چوب و سنگ، این امریکایی را به قتل رساندند. مل پاسوال قسیم جنگل باغ قوماندان امنیهٔ ولایت پنجشیر، این حادثه را تایید کرده و گفت که این امریکایی، ملکی بوده و با هیچ نهاد نظامی ارتباط نداشته است. وی از دادن معلومات بیشتر در مورد نحوهٔ قتل این فرد امریکایی خودداری کرد، اما اظهار داشت که در پیوند به این حادثه، پنج تن را دستگیر کرده اند. عنایت الله توپان سخنگوی والی پنجشیر در گفتگو با پژواک کشته شدن این فرد را تایید کرده و گفت که این دو تن زن و شوهر بوده اند. وی افزود که آنها بدون هماهنگی با مقام ها و نیروهای امنیتی برای سیاحت به دره مُکنی رفته بودند. گفتنی است این اولین باری است که یک فرد امریکایی، توسط مردم در پنجشیر به قتل می رسد.

کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز

ماده سیزدهم: هردولت عضو، موظف است حق شکایت فردی را که عنوان می کند او در قلمرو قضایی آن دولت مورد شکنجه قرار گرفته است را محفوظ بدارد وشکایت او را بی درنگ و بی طرفانه به مقامات صلاحیت دار جهت رسیدگی ارجاع دهد و نیز مطمین گردد که شکایت کننده وشاهدان از تهدیدهای که نتیجه عمل آنهاست درامان خواهند بود.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپاڼه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل:- ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل:- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل:- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com